## <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

### د خلافت له راپرځېدو وروسته د عبادت ځايونو له منځه وړل د مسلمانانو لپاره يوه غميزه بلل کېږي

د کينيا رېلپټلۍ د کيسومو کيبوس په سيمه کې يو جامع جومات او لسګونه هغه کورونه ړنګ کړل، چې د نايروبي ـ کيسمو رېل پټلۍ د بيا رغاونې پر لار پراته وو. جومات تر ټولو لوی او پخوانی عبادت ځای و، چې شاوخوا ۸۳ کلونه وړاندې په کيسومو کې جوړ شوی و.

موږ حزب التحرير ـ کينيا، دغه غير عادلانه او غير اخلاقي عمل غندو، چې د جومات او استوګنيزو کورونو د ړنګېدلو په اړه د محکمې د حکم پر خلاف ترسره شوی دی. دا تر لمر روښانه ده چې حکومت په طبيعي توګه په دې کې پاتې راغلی چې له خلکو سره په ځانګړې توګه له مسلمانانو سره ښې اړيکې ټينګې کړي او همدا راز د ملکيت او عبادت ځايونو امنيت ټينګ کړي.

دا د اسلام ضد عمل په حقيت کې د مسلمانانو پر وړاندې تر سره شوی دی، چې د الله سبحانه و تعالی غوصه راپاروي:

**(وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَاجِدَ اللَّـهِ أَن يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ وَسَعَىٰ فِي خَرَابِهَا)**

**ژباړه:** *«له هغه چا څخه به لوی ظالم څوک وي چې د الله سبحانه و تعالی په عبادت ځايونو (مسجدونو) کې د الله سبحانه و تعالی د نوم اخيستنې منع کوي او د هغه د ويجاړولو په هڅه کې وي؟»* [بقرة: ۱۱۴]

د جوماتونو ويجاړول د ټولې اسلامي ټولنې په ځانګړې توګه د نايروبي مسلمانانو لپاره يوه غميزه بلل کېږي. دا ځکه چې موږ يو امت يو او جوماتونه په اسلام کې لوړ مقام لري، چې دا د الله سبحانه و تعالی کورونه دي. دا له سپکاوي څخه ډک عمل د مسلمانانو پر وړاندې ژوره دښمني ښکاره کوي، دا د هغه نړيوالې دښمنۍ پايله ده چې په چين کې په پراخه کچه شته، چې د اسلام ضد چينايي چارواکو له لوري زرګونه جوماتونه ويجاړ شوي دي. ښايي موږ هېر نه کړو چې د قدس سپېڅلی جومات د يهوديانو له لوري اشغال شوی او شپه او ورځ تر جومات لاندې د تونلونو په کيندلو سره د هغه د سپکاوي پلانونه جوړوي.

د خلافت د راپرځېدلو ۱۰۰ کلونه تېر شول، مسلمانانو د جوماتونو په منځ کې د دوی د مقدساتو اصلي ساتونکی له لاسه ورکړ. دا ۱۰۰ کلونه د جګړو، بريدونو او ويجاړۍ کلونه دي. دا له غمه ډکه پېښه بايد مسلمانان نور هم وهڅوي چې په هغو مسلمانانو کې شامل شي او خپلې هڅې دوه برابره کړي، چې په اسلامي خاورو کې د نبوت

پر منهج د راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره کار کوي. دا خلافت دی چې په ټوله نړۍ کې د مسلمانانو او غیر مسلمانانو لپاره د ملکیت، ژوند او عبادت ځایونو امنیت تضمینوي.

**#خلافت_بيا_تاسيس_ کړئ**

**#أقيموا_الخلافة**

**#ReturnTheKhilafah**

**#YenidenHilafet**

**شباني مواليمي**

**د حزب التحرير۔ کینیا مطبوعاتي استازی**

**۱۴۴۲ هـ.ق کال، د جمادي الثاني ۳۰مه**

**۲۰۲۱م کال، د فبرورۍ ۱۲مه**

**د صدور ګڼه: ۰۸/ ۱۴۴۲**